سپین غر
د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)
Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)

نشر نېټه: 1403/09/28 — کال او ربعه: 1403-3 — ګڼه: 001




# ربعوار خبري بولېټن

## د بولېټن پېژندنه

**سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه په تحصیلي ډګر کې یوه معتبره او مخکښه اداره ده چې د خپلو فعالیتونو په لړ کې، د پوهې او پرمختګ پر بنسټ د مختلفو فعالیتونو راپور ورکولو لپاره خبري بولېټن خپروي. دغه خبري بولېټن د مؤسسې داخلي او خارجي فعالیتونه، پروګرامونه، تحقیقاتي چارې، تدریس او د محصلینو په اړه تازه معلومات او پرمختګونه وړاندې کوي.**

**د مؤسسې خبري بولېټن چې په ربعه وار ډول وړاندې کېږي، د مؤسسې د علمي او اداري چارو په اړه پراخ او دقیق معلومات وړاندې کوي، ترڅو محصلین، استادان او د ټولنې نورې برخې د دې مؤسسې د لاسته راوړنو او خدماتو په اړه پوره پوهه ولري.**




### د مؤسسې په کچه محصلینو تر منځ علمي رقابتي سیالي ترسره شوه

**(۲۱/قوس/۱۴۰۳) - چهارشنبه**

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د عمومي طب، غاښونو طب او طبي ټکنالوژي پوهنځیو محصلینو تر منځ د نشه یي توکو اړوند ناروغیو تر سرلیک لاندې موضوع کې علمي سیالي ترسره شوه، چې د ژوري هیئت سربېره په کې د مؤسسې مرستیالانو، د درې ګونو پوهنځیو رئیسانو او مرستیالانو، د پوهنځیو استادانو، د بېلابېلو اداري واحدونو آمرینو او د پوهنځیو لسګونو تنو محصلینو ګډون درلود... ادامه (۱۲ مخ)



### د ملي علمي ـ څېړنیز کنفرانس د رهبری بورډ جلسه کې د کنفرانس اړوند چارو راپور وړاندې شو!

۱۴۰۳/۸/۲۷ ل.ل

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي رئیس سید شمس الدین همت له لورې د ملي علمي ـ څېړنیز کنفرانس د رهبری بورډ په ننۍ جلسه کې، د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو معین دکتور لطف الله خیرخواه په مشرۍ راغلي پلاوي ته د مؤسسې له لورې د دابړېدونکي ملي علمي ـ څېړنیز کنفرانس اړوند ترسره شویو او روانو چارو راپور وړاندې شو.

یاد راپور چې د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو، د لوړو زده کړو د علمي چارو معین سربېره په کې د یاد وزارت د څېړنې، تألیف او ژباړې رئیس دکتور حمیدالله مزمل، د ننګرهار پوهنتون د علمي چارو مرستیال پوهندوی احسان الله ناصح، د مؤسسې مرستیالانو او د پوهنځیو رئیسانو ګډون درلود... ادامه (۱ مخ)




### د ختیځ زون طبي ټکنالوجېستانو اتحادیې له لورې علمي سیمینار وړاندې شو!

۱۴۰۳/۸/۲ ل.ل

د ختیځ زون طبي ټکنالوجېستانو اتحادیې له لورې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې سره د ترسره شوي هوکړه لیک له مخې، د مؤسسې د طبي ټکنالوژي پوهنځي استادانو او د طبي ټکنالوجېستانو اتحادیې غړو ته «په اوسني عصر کې د وایرولوژي او مالیکولي بیولوژي اهمیت» تر سرلیک لاندې یو ورځینی علمي سیمینار وړاندې شو.

یاد سیمینار چې د هیومن طبي لابراتوارونو مرکزي (کابل) څانګې په همکارۍ نن له غرمې وړاندې د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وړاندې شو... ادامه (۲ مخ)

# په دې ګڼه کې


| ګڼه | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| 1 | د مؤسسې په کچه محصلينو تر منځ علمي رقابتي سيالي ترسره شوه | ۱ |
| 2 | د ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس د رهبرۍ بورډ جلسه کې د کنفرانس اړوند چارو راپور وړاندې شو | ۲ |
| 3 | د ختيځ زون طبي ټکنالوجيستانو اتحاديې له لورې علمي سيمينار وړاندې شو | ۳ |
| 4 | د کمپيوټر مهارتونو اړوند پينځه ورځنی روزنيزه برنامه پای ته ورسېده | ۴ |
| 5 | غاښونو طب پوهنځي لپاره نوي وسايل وپېرل شول | ۴ |
| 6 | د استادانو اړوند پلانونو او راپورونو جوړونې سيمينار وړاندې شو | ۴ |
| 7 | د بيزو تناکې (Monkeypox) ناروغۍ په اړه يو ورځنی سيمينار وړاندې شو | ۴ |
| 8 | د روغتيا ولايتي همغږۍ مياشتنۍ مجلس کې ګډون وشو | ۵ |
| 9 | د زړه نړيوالې ورځ په مناسبت معلوماتي سيمينار وړاندې شو | ۵ |
| 10 | نوی مرکزي کتابتون ګټې اخستنې ته چمتو شو | ۵ |
| 11 | د التهاب ضد غير ستروئيدي درملو په اړه سيمينار وړاندې شو | ۵ |
| 12 | د تأليف اساسات او اړتيا تر سرليک لاندې سيمينار وړاندې شو | ٦ |
| 13 | د عقامت (Infertility) په اړه سيمينار وړاندې شو | ٦ |
| 14 | د عمومي طب پوهنځي محصلينو تر منځ علمي سيالي ترسره شوه | ٦ |
| 15 | د ۱۴۰۳ لمريز کال پسرلني سمستر ممتاز محصلان وستايل شول | ۷ |
| 16 | د مؤسسې محصلينو نږدې يووېشت زره (۲۱۰۰۰) سي سي وينه په تلسيميا اخته ناروغانو ته ډالۍ کړه | ۷ |
| 17 | د انتاناتو مخنيوي تر سرليک لاندې علمي سيمينار وړاندې شو | ۷ |
| 18 | د خوږو نړيوالې ورځې په مناسبت معلوماتي سيمينار وړاندې شو | ۸ |
| 19 | دماغ ته د شرياني وينې اړو (Circle of Willis) په اړه علمي سيمينار وړاندې شو | ۸ |
| 20 | د غاښونو طب پوهنځي محصلينو تر منځ علمي سيالي ترسره شوه | ۸ |
| 21 | د Cocci بکترياو د مقاومت اسبابو په اړه علمي سيمينار وړاندې شو | ۹ |
| 22 | د طبي ټکنالوژي پوهنځي محصلينو تر منځ علمي سيالي ترسره شوه | ۹ |
| 23 | د هستامين او انټي هستامين درملو په اړه علمي سيمينار وړاندې شو | ۹ |
| 24 | د مکروب ضد درملو پر وړاندې د مکروبونو مقاومت په اړه علمي سيمينار وړاندې شو | ۹ |
| 25 | سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې ښخه ليدنه تر سره شوه | ۱۰ |
| 26 | د هوا ککړتيا مخنيوي او چاپيريال ساتنې اونۍ په مناسبت معلوماتي برنامه وړاندې شوه | ۱۰ |
| 27 | نشه يي توکي، ډولونه او د مخنيوي لارې چارې تر سرليک لاندې معلوماتي سيمينار وړاندې شو | ۱۱ |
| 28 | د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې عامه پوهاوي کمپاين تر سره شو | ۱۱ |
| 29 | د شکرې ناروغۍ نړيوالې ورځې په مناسبت معلوماتي سيمينار وړاندې شو | ۱۱ |
| 30 | د طب له نظره د چاپيريال د ککړتيا زيانونه او د مخنيوي لارې چارې تر سرليک لاندې معلوماتي سيمينار وړاندې شو | ۱۱ |
| 31 | ورزشي کلبونو ته د معرفي شويو محصلينو له فعاليتونو ښخه ليدنه تر سره شوه | ۱۲ |
| 32 | د EPHS, BPHS, HMIS په اړه ټريننګ ګډونوالو ته تصديقونه ورکړل شول | ۱۲ |
| 33 | د ماشوم نړيوالې ورځې په مناسبت معلوماتي سيمينار وړاندې شو | ۱۲ |
| 34 | د عمومي طب پوهنځي له محصلينو سره د پوهنځي ستراتېژيک پلان شريک شو | ۱۳ |
| 35 | د غاښونو طب پوهنځي ستراتيژيک پلان، د پوهنځي له محصلينو سره شريک شو | ۱۳ |
| 36 | د ايډز نړيوالې ورځې په مناسبت معلوماتي سيمينار وړاندې شو | ۱۳ |
| 37 | د علمي پرېزنټېشن جوړولو په اړه ورکشاپ وړاندې شو | ۱۴ |
| 38 | د نرم مهارتونو او شخصيت لوړونې اړوند معلوماتي او لاربنود سيمينار وړاندې شو | ۱۴ |
| 39 | د خولې بد بويي (Halitosis) په اړه علمي سيمينار وړاندې شو | ۱۴ |
| 40 | د طبي ټکنالوژي پوهنځي له استادانو او اداري کارکونکو سره، د پوهنځي ستراتيژيک پلان شريک شو | ۱۵ |



+93785030915 / +93778330015 | info@spinghardocuments.edu.af | www.spingharuniversity.edu.af

سپین غر
د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)
Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)
نشر نېټه: 1403/09/28 کال او ربعه: 1403-3 ګڼه: 001

# د مؤسسې په کچه محصلینو تر منځ علمي رقابتي سیالي ترسره شوه

(۲۱/قوس/۱۴۰۳) - چهارشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د عمومي طب، غاښونو طب او طبي ټکنالوژۍ پوهنځیو محصلینو تر منځ د نشه یي توکو اړوند ناروغیو ترسرلیک لاندې موضوع کې علمي سیالي ترسره شوه، چې د ژوري هیئت سربېره په کې د مؤسسې مرستیالانو، د درې ګونو پوهنځیو رئیسانو او مرستیالانو، د پوهنځیو استادانو، د بېلابېلو اداري واحدونو آمرینو او د پوهنځیو لسګونو تنو محصلینو ګډون درلود.

د سیالۍ د پیل وینا پر مهال د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل، د سیالۍ برابرولو له امله د پوهنځیو له رئیس صاحبانو او ژوري هیئت غړو په ګډون له اړوندو همکارو خواو ځانګړې مننه وکړه. ښاغلي زیارمل د سیالۍ د عمومي او نمرو ورکولو پر څرنګوالي او سیالۍ لپاره د موضوع ټاکلو پر اړتیا او ارزښت تفصیلي خبرې وکړې. نوموړي همدا راز زیاته کړه چې دا ډول برنامې د محصلینو تر منځ د علمي نظریاتو د تبادلې، سالم رقابت، د محصلینو د ظرفیتونو او مهارتونو لوړولو په برخو کې ګټورې دي او محصلین هم باید په کې فعاله ونډه واخلي.

علمي سیالي په دوه برخو کې پلان شوې وه، چې یوه برخه یې محصلینو له لورې د ټاکل شوې موضوع اړوند مشخصو سرلیکونو په اړه د ګروپ د ډلمشر له لورې د علمي پرېزنټېشن وړاندې کول وه. د سیالۍ دویمه برخه د ګروپ له غړو څخه د عمومي ټاکل شوې موضوع اړوند پوښتنو لپاره ځانګړې شوې وه. د سیالۍ د لومړۍ برخې (۵۰) نمرې د ژوري هیئت له لورې د ارزونې ځانګړو فورمونو له مخې او د سیالۍ د دویمې برخې (۵۰) نمرې له هرې ډلې څخه د پوښتل شویو پوښتنو ځوابونو له مخې ورکول کېدلې. د سیالۍ پوښتنې او پایلې د ګډونوالو په شتون کې د یوې شفافې پروسې له مخې – د سیالۍ له پیل وړاندې - د ژوری هیئت له لورې ترتیب شوې وې.

د علمي سیالۍ لپاره غوره شوي محصلین په ترتیب سره د عمومي طب پوهنځي محصلین په (الف) ګروپ، د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي په (ب) ګروپ او د غاښونو طب پوهنځي په (ج) ګروپ کې ډلبندي شوي وو. د سیالۍ د بې پرې ارزونې او پایلو له مخې د مؤسسې د ازموینو او نتایجو انسجام آمر شاه مقصود عدلزي له لورې د غاښونو طب پوهنځي محصلین د لومړي، عمومي طب پوهنځي محصلین دویم او طبي ټکنالوژۍ پوهنځي محصلین د درېیم مقام ګټونکي اعلان شول او د سیالۍ درې واړو ګروپونو ډلمشرانو او غړو محصلینو ته د هغوی د ونډې او لاسته راوړنې له مخې بېلابېلې ډالۍ هم ورکړل شوې.

پاتې دې نه وي، چې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې درې ګونو پوهنځیو او فرهنګي چارو اصلي او فرعي کمېټو، د محصلینو د علمي کچې لوړاوي او د مفاهمې، سوال ځواب او مناقشې هنرونو د پیاوړتیا په موخه، وار له مخه هم ورته خپلمنځي او عمومي سیالۍ ترسره کړي دي، چې په یادو برخو کې خورا اغېزناکې ثابتې شوې دي.












+93785030915 / +93778330015 info@spingharuniversity.edu.af www.spingharuniversity.edu.af

# د ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس درهبرۍ بورډ جلسه کې د کنفرانس اړوند چارو راپور وړاندې شو!

۱۴۰۳/۸/۲۷ ل.ل



سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي رئيس سيد شمس الدين همت له لورې د ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس درهبرۍ بورډ په ننۍ جلسه کې، د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو معين دکتور لطف الله خيرخواه په مشرۍ راغلي پلاوي ته د مؤسسې له لورې د داېرېدونکي ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس اړوند ترسره شويو او روانو چارو راپور وړاندې شو.

ياد راپور چې د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو، د لوړو زده کړو د علمي چارو معين سربېره په کې د ياد وزارت د څېړنې، تأليف او ژباړې رئيس دکتور حميدالله مزمل، د ننګرهار پوهنتون د علمي چارو مرستيال پوهندوی احسان الله ناصح، د مؤسسې مرستيالانو او د پوهنځيو رئيسانو ګډون درلود.

د مؤسسې عمومي رئيس سيد شمس الدين همت د پرانيستې وينا پر مهال راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست او مننې مراتبو په وړاندې کولو سره د ياد ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس اړوند ترسره شويو او روانو چارو په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل او په طبي برخه کې ياد کنفرانس يې د خپل ډول لومړنی کنفرانس ياد کړ. د لوړو زده کړو د علمي چارو معين ښاغلي دکتور لطف الله خيرخواه، د ياد وزارت د څېړنې، تأليف او ژباړې رئيس دکتور حميدالله مزمل او د ننګرهار پوهنتون د علمي چارو مرستيال پوهندوی احسان الله ناصح هر يو په خپل وار د خوښۍ او مننې په څرګندولو سره، خپله برخه کې د همغږۍ رامنځته کولو او بشپړې همکارۍ ډاډ څرګند کړ. دوی همدا راز په ځينو برخو کې مثبت وړانديزونه او نظريات هم وړاندې کړل چې د مؤسسې د عمومي رئيس ښاغلي همت له لورې په هره برخه کې د پوره غور او اړينو اجرأتو ډاډ ورکړل شو.

راغلي پلاوي د مؤسسې د غونډو عمومي تالار په ګډون له ځينو برخو څخه هم ليدنه وکړه او د پلاوي په سلامشوره او غوښتنه به، د څېړنيزو چارو د غوره، معياري او دقيق مديريت او لامثبتو پايلو تر لاسه کولو په موخه، د کنفرانس لپاره د څېړنيزو ليکنو منلو وروستۍ نېټه هم تمديد او څېړونکو سره شريکه شي. د يادونې وړ ده چې سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د څېړنو اړتيا او ارزښت ته په پام سره، پلان کې لري چې (په افغانستان کې روغتيايي سېستم او خدمتونو ته کتنه: ستونزې، فرصتونه او حل لارې) تر عنوان لاندې د ۱۶ محورونو په اړه ملي – څېړنيز کنفرانس داير کړي، چې د ټول هېواد په کچه څېړونکي په کې د کنفرانس د غوښتنو او محورونو په پام کې نيولو سره ګډون کولی شي. د څېړونکو ټاکلې موضوعګانې به د کتنپلاوي د داخلي او بهرنيو مسلکي باتجربه غړو له تائيد وروسته په کنفرانس کې وړاندې او سپين غر د طبي علومو ملي څېړنيز ژورنال کې نشر شي.



# د ختیځ زون طبي ټکنالوجېستانو اتحادیې له لورې علمي سیمینار وړاندې شو!

۱۴۰۳/۸/۲ ل.ل

د ختیځ زون طبي ټکنالوجېستاتو اتحادیې له لورې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې سره د تر سره شوي هوکړه لیک له مخې، د مؤسسې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي استادانو او د طبي ټکنالوجېستانو اتحادیې غړو ته «په اوسني عصر کې د وایرولوژۍ او مالیکولي بیولوژۍ اهمیت» تر سرلیک لاندې یو ورځینی علمي سیمینار وړاندې شو. د سیمینار د پرانیستې وینا پر مهال د مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال د سیمینار ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو سربېره، د نننې سیمینار تر څنګ د اضافه نصابي فعالیتونو پر اړتیا او ارزښت خبرې وکړې. ښاغلي جمال د سیمینار برابرولو او وړاندې کولو له امله له ټولو اړوندو خواو، په ځانګړې ډول ختیځ زون د ټکنالوجېستانو اتحادیې او هیومن طبي لابراتوار له استازو، ځانګړې مننه وکړه.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي رئیس دوکتور محمد جمیل وسیم، ختیځ زون د طبي ټکنالوجېستانو اتحادیې د علمي بورډ غړي په توګه، د ښه راغلاست په ویلو سره د اتحادیې د پېژندنې، موخو، لاسته راوړنو او راتلونکو پرمختیایي پلانونو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل. نوموړي همدا راز د اتحادیې له استازو څخه مننه وکړه، چې له مؤسسې سره د شوي هوکړه لیک مواردو ته تل ژمن پاتې شوي دي او وخت په وخت یې په خپله برخه کې لازم اجرأت تر سره کړي دي. د سیمینار وړاندې کولو پر مهال، د هیومن طبي لابراتوارونو مرکزي (کابل) ځانګې همکار، مایکروبیولوجېست شهباز خان د مایکروبیولوژۍ اهمیت، میډیکل مایکروبیولوژۍ اهمیت او ارزښت، د نمونې د ډولونو، د نمونې اخیستنې، کلچر، د نمونې د لیږدولو پروسیجر او لارو چارو، کومې نمونې باید رد شي، مقاومت او او په نړیواله کچه د مقاومت اړوند وروستیو موندنو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

د هیومن طبي لابراتوارونو مرکزي (کابل) ځانګې همکار ټکنالوجېسټ زرګل شینواري په خپل وار د مالیکولي بیولوژۍ پر پېژندنه، د مالیکولي تشخیص پېژندنه، مالیکولي تکنیکونو، پي سي آر (PCR) او ډولونه یې، په تشخیصیه برخو کې د پي سي آر ارزښت ګټو او د معیار په توګه یې د کارونې اصل او د مالیکولي تشخیص د مدیریت په ګډون، اړوندو موضوعاتو باندې هر اړخیز بحث وکړ، چې د سیمینار د هرې برخې په پای کې د ګډونوالو پوښتنې په خورا علمي او مسلکي ډول ځواب شوې.

د یادونې وړ ده چې د سیمینار په وروستیو کې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي استادانو او د اتحادیې غړیتوب لرونکو لسګونو تنو ټکنالوجېستانو ته تصدیقونه هم ورکړل شول او سیمینار د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل له لورې ښکېلو خواوو ته د مننې ځانګړو مراتبو په وړاندې کولو او دعائیه کلام سره پای ته ورسید.



## د کمپيوټر مهارتونو اړوند پينځه ورځنۍ روزنيزه برنامه پای ته ورسېده

(۱/میزان/۱۴۰۳) - شنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د بهرنیو ژبو او مسلکي پرمختیا (PDC) آمریت له لورې د معلوماتي ټکنالوژۍ (IT) آمریت په همکارۍ، د کمپیوټر اداري پروګرامونو اړوند پینځه ورځنۍ روزنیزه برنامه پرون ماسپخین (شنبه ۱/۷/۱۴۰۳)، د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې پای ته ورسېده.

یاده برنامه چې د پای غونډې مراسمو کې یې د مؤسسې مرستیالانو هم ګډون درلود، د مؤسسې د دریو ګونو پوهنځیو (عمومي طب، غاښونو طب او طبي ټکنالوژي) استادانو او اداري کارکونکو د ظرفیتونو او مهارتونو لوړولو په موخه برابره شوې وه، چې د مؤسسې د معلوماتي ټکنالوژۍ آمر صدیق الله عادل له لوري وړاندې شوه او د کمپیوټر اداري پروګرامونو په شمول په کې، د یو ځانګړي پلان او مهالوېش له مخې، په بېلابېلو برخو کې د ګډونوالو ستونزې حل شوې. د یادونې وړ ده چې د برنامې په وروستیو کې د روزنیزې برنامې ګډونوالو ته د برنامې د تکمیل تصدیقونو د ورکړې سربېره، ترینر استاد ښاغلي صدیق الله عادل ته د اداري له لوري ځانګړی ستاینلیک ورکړل شو، د نوموړي هڅې وستایل شوې او په راتلونکې کې ورځنۍ د ورته برنامو وړاندې کولو هیله څرګنده شوه.




## غاښونو طب پوهنځي لپاره نوي وسایل وپېرل شول

۱۴۰۳/۷/۱ ل.ل

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د غاښونو طب پوهنځي محصلینو د عملي کارونو د لا ښه والي په موخه، د غاښونو طب لابراتوارونو لپاره نوي عصري طبي وسایل وپېرل شول. یاد لس ګونه قلمه وسایل چې تېره اونۍ د مؤسسې د غاښونو طب پوهنځي رئیس په شتون کې د مؤسسې د لابراتوارونو آمریت ته وسپارل شول، د مسلکي مضامینو لکه جراحي ستوماتولوژي، داخله ستوماتولوژي، پراستودونټیک، اورتودونسي او ورته نورو مضامینو اړوند دي، چې د یادو مضامینو په عملي، تطبیقي او لابراتوري عملیو کې به ورځنۍ ګټه واخیستل شي.



د غاښونو طب پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور عبدالله رحماني د یادو توکو پېرلو له امله، د مؤسسې له اداري ځانګړې مننه وکړه چې تل یې د محصلینو د نظري او عملي برنامو د ښه والي په موخه د دوی وړاندیزونو ته مثبت ځواب ویلی دی. نوموړي همدا راز د غاښونو طب پوهنځي په استازولۍ ډاډ څرګند کړ چې له یادو وسایلو څخه به اعظمي استفاده کوي او له محصلینو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د اداري له لوري د دوی لپاره د برابرو شویو امکاناتو او اسانتیاو پر مټ خپل علمي (نظري او عملي) ظرفیتونه لوړ کړي. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو پنځه کلنو ستراتیژیکو اهدافو تطبیق په لړ کې د درسي سهولتونو د پراختیا ځانګړي پلان له مخې په پام کې لري، چې په خپلو ټولو پوهنځیو کې ورته عصري - طبي وسایل او امکانات د وخت له غوښتنو سره سم تهیه کړي او په دې توګه د محصلینو د غوره نظري او عملي تدریس لپاره داسې یو معیاري درسي چاپېریال رامنځته او په طبي برخه کې خپل محصلین د عصر د غوښتنو سره سم وروزي.

## د استادانو اړوند پلانونو او راپوړونو جوړونې سیمینار وړاندې شو

(۱/میزان/۱۴۰۳) - شنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د بهرنیو ژبو او مسلکي پرمختیا آمریت له لوري د مؤسسې د علمي چارو مرستیال په همکارۍ، د استادانو اړوند پلانونو او راپوړونو جوړونې معلوماتي او لارښود سیمینار ترسرلیک لاندې یو ورځنی سیمینار، یکشنبه (۱/۰۷/۱۴۰۳) وړاندې شو.

یاد معلوماتي او لارښود سیمینار چې د مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال له لوري د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو د پلان او راپور جوړونې، په عمومي ډول د پلان او راپور جوړونې اهمیت او ګټو، د پلان او راپور د پېژندنې په ګډون د پلان او راپور بېلابېلو ډولونو او اهدافو،




د پلان او راپور فارمټونو، د غوره راپور ځانګړتیاوو، د استادانو اړوند پلانونو او راپورونو، د انفرادي کړنو عملیاتي پلان (IAP) او د تدریس د پرمختګ پلان (TIP) مهمو ټکو په اړه په کې له ګډونوالو سره هر اړخیز معلومات شریک شول.

د یادونې وړ ده چې د سیمینار په پای کې د مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال له لوري، د ګډونوالو پوښتنې په علمي – مسلکي ډول ځواب او د وړاندیزونو په اړه یې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

## د بیزو تناکي (Monkeypox) ناروغۍ په اړه یو ورځنی سیمینار وړاندې شو

(۳/میزان/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د غاښونو طب پوهنځي ستوماتولوژي ډیپارتمنټ له لوري، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې د بیزو تناکي ناروغۍ (Monkeypox) ترسرلیک لاندې یو ورځنی علمي او معلوماتي سیمینار وړاندې شو.

د سیمینار د پرانیستې وینا پر مهال د پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور عبدالله رحماني په علمي سیمینارونو کې د محصلینو په پراخه او فعاله ونډه اخیستنه ټینګار وکړ او د پوهنځي له لوري محصلینو ته د هغوی د ظرفیت لوړونې برنامو د ځرګنولي او ارزښت په اړه یې معلومات وړاندې کړل.




ښاغلي دوکتور عمران الله رسولي د سیمینار وړاندې کولو پر مهال، د بیزو تناکي ناروغۍ د پېژندنې، تاریخچې، اپیډیمولوژي، کلینیکي اعراض او علایمو، د ناروغۍ د تشخیص لارو چارو، وقایوي تدابیرو او معالجې، په خولې جوف باندې د ناروغۍ اغېزو، اعراض او علایمو په اړه یې هر اړخیز علمي معلومات وړاندې کړل.


+93785030915 / +93778330015 info@spingharuniversity.edu.af www.spingharuniversity.edu.af

## د روغتيا ولايتي همغږۍ مياشتني مجلس کې ګډون وشو

(۲/ميزان/۱۴۰۳)

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې رئيس سيد شمس الدين همت، د مؤسسې د راتلونکي ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس لپاره د مقالو غوښتنې په موخه، د ننګرهار عامې روغتيا رياست د روغتيا ولايتي همغږۍ مياشتني مجلس کې ګډون وکړ.

د همغږۍ ياد مجلس چې د ولايت د عامې روغتيا رئيس ښاغلي مولوي امين الله شريف په مشرۍ نن سهار د ياد رياست د کنفرانسونو په تالار کې تر سره شو، په ننګرهار ولايت کې د روغتيايي خدمتونو ګيو تطبيقوونکو داخلي او بهرنيو مؤسساتو استازو په شمول په کې د بېلابېلو روغتيايي مراکزو مسوولينو هم ګډون درلود.



د عامې روغتيا رئيس ښاغلي شريف، چې وار له مخه ورسره د مؤسسې د راتلونکي ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس په اړه ناسته شوې وه، د ښه راغلاست او خوښۍ په څرګندولو سره په خپله برخه کې د اړينې همکارۍ تر سره کولو ډاډ څرګند کړ. سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې رئيس سيد شمس الدين همت په خپل وار، ګډونوالو ته د ښه راغلاست او مسوولينو څخه د منني مراتبو په وړاندې کولو سره، د مؤسسې له لورې د دابرېدونکي ملي علمي ـ څېړنيز کنفرانس د موضوع او محورونو په اړه اړين معلومات شريک کړل. نوموړي په ياد څېړنيز کنفرانس کې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کوونکو ادارو او اشخاصو په شتون او فعاله ونډه اخيستنه ټينګار وکړ او له ګډونوالو يې وغوښتل چې د څېړنيزو ليکنو په استولو سره په کنفرانس کې فعاله ونډه واخلي او د کنفرانس په اړه نورو اړوندو ادارو او اشخاصو سره هم معلومات شريک او هغوی د کنفرانس محورونو ته په پام، څېړنيزو ليکنو او کنفرانس کې ګډون ته وهڅوي.

## د زړه نړيوالې ورځ په مناسبت معلوماتي سيمنار وړاندې شو

(۸/ميزان/۱۴۰۳)

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي د فرهنګي چارو فرعي کميټې له لورې د مؤسسې د فرهنګي چارو اصلي کميټې په همغږۍ، د زړه نړيوالې ورځې په مناسبت يو ورځنی معلوماتي سيمنار وړاندې شو.




ياد سيمنار چې د مؤسسې د معالجوي طب ډيپارټمنټ د آمر او استاد دوکتور محبت شاه همت له لورې نن د ميزان په اتمه نېټه، چې د ۲۰۲۴ زېږديز کال د سپټمبر له ۲۹ (د زړه نړيوالې ورځې)سره برابره ده، د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو، چې د عمومي طب پوهنځي د رئيس، مرستيال، استادانو او اداري کارکونکو په ګډون، لسګونو تنو محصلينو په کې برخه اخيستې وه.

د عمومي طب پوهنځي رئيس دوکتور محمد جاويد حاذق ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ د زړه په شمول د نورو طبي نړيوالو ورځو د نمانځنې پر ارزښت خبري وکړې. نوموړي د زړه په څېر وژونکو ناروغيو په اړه د عامه پوهاوي په موخه د معلوماتي سيمنارونو وړاندې کول د طبي برخې پوهانو، استادانو او کارکونکو مسووليت وګڼه او د سيمنار د پلان کولو او اراېي له امله يې د فرهنګي چارو له کميټو او د معالجوي طب ډيپارټمنټ له آمر څخه ځانګړې مننه وکړه.

## نوی مرکزي کتابتون ګټې اخستنې ته چمتو شو

(۹/ميزان/۱۴۰۳)

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتيژيک پلان او کيفيت د تضمين او اعتبار ورکوني معيارونو د تطبيق په موخه، په عصري او ټکنالوژيکي وسايلو سنبال نوی معياري کتابتون ګټې اخيستلو ته چمتو کړ.

ياد کتابتون د ۲۵۰ متر مربع پراخوالي په درلودلو سره، په هارډ بڼه د نږدې شل زرو (۲۰۰۰۰) کتابونو ساتلو ظرفيت لري، چې اوسمهال په کې د طبي کتابونو په ګډون، د بېلابېلو برخو اړوند




زرګونه جلده فزيکي او لسګونه زره برېښنايي کتابونه او څېړنيز ژورنالونه شتون لري.

د مؤسسې نوی مرکزي کتابتون د انفرادي، ګروپي او عمومي مطالعې د ځانګړو ځايونو او خونو په ګډون، د کمپيوټر او انټرنېټ کاروني اسانتيا او مشخص ځای لري، چې په يو وخت کې ورڅخه نږدې سل (۱۰۰) مراجعين ګټه اخيستلی شي.

د مؤسسې په انلاين کتابتون برخه کې، سلګونه برېښنايي کتابتونونه شتون لري، چې د مطالعې لپاره يې ۱۸ پايې کمپيوټرونه ځای پر ځای شوي دي او تر څنګ يې د کمپيوټرونو شريک فولډر(Share Folder) له لارې محصلينو سره نږدې (۸۰۰) جي بي ويډيويي کورسونه، برېښنايي مقالې، طبي ژورنالونه او سلايډونه هم شريک شوي دي، چې وخت په وخت د کتابتون مسوولينو له لورې مهالني کېږي.

د يادونې وړ ده چې سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د کتابتون ودانيز برخې د بيارغونې چارې نږدې درې مياشتې وړاندې پيل شوي وې، چې له نېکه مرغه يادې چارې بشپړې او اوسمهال ورڅخه د کتابتون شرايطو او کاري مهالوېش له مخې د مؤسسې د درې ګونو پوهنځيو محصلين ګټه اخيستلی شي.

## د التهاب ضد غير ستروئيدي درملو په اړه سيمنار وړاندې شو

(۹/قوس/۱۴۰۳) - دوشنبه



سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي له لورې د معالجوي طب ډيپارټمنټ په همکارۍ، د التهاب ضد غير ستروئيدي درملو Non-steroidal anti-inflammatory drugs (NSAIDs) تر سرليک لاندې، يو ورځنی علمي سيمنار وړاندې شو. د پرانيستې وينا پر مهال د عمومي طب پوهنځي رئيس دوکتور محمد جاويد حاذق د نصابي فعاليتونو تر څنګ په غير

نصابي فعالیتونو کې د محصلینو پرفعال ګډون ټینګار وکړ او د پوهنځي له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال لپاره د ورته نورو پلان شویو علمي، معلوماتي او څېړنیزو سیمینارونو، ورکشاپونو او روزنیزو برنامو د شتون په اړه یې ډاډ ورکړ او ټینګار یې وکړ، چې د ظرفیت لوړونې هره برنامه به د پلان له مخې په خپل وخت تر سره شي.

ښاغلي دوکتور محبت شاه همت په خپل وار د التهاب پېژندنې، د NSAIDs درملو پېژندنې او طبقه بندی، فارمکولوژیک تأثیراتو، فارمکوکینیټیک، کلینیکي استعمال، جانبي عوارضو، د حاملګۍ پر مهال د یادو درملو د کارونې او له نورو درملو سره یې د متقابلو اغېزو په اړه هر اړخیز علمي معلومات وړاندې کړل.

د سیمینار په وروستیو کې د مؤسسې د څېړنې، تألیف او ژباړې مرستیال او د عمومي طب پوهنځي استاد، متخصص دوکتور شفیق الله عطیش له لوري د دا راز سیمینارونو وړاندې کول د طبي برخې پوهانو، استادانو او کارکونکو مسوولیت وګڼه او د سیمینار د پلان کولو او اراېې له امله یې د معالجوي طب ډیپارټمنټ له آمر ښاغلي همت څخه خانګړې مننه وکړه او سیمینار د نوموړي په دعائیه کلام سره پای ته ورسېد.

## د تألیف اساسات او اړتیا ترسرلیک لاندې سیمینار وړاندې شو

(۹/قوس/۱۴۰۳) - دوشنبه

یاد سیمینار د مؤسسې د درې ګونو پوهنځیو تدریسي او اداري غړو او سپین غر مومند پنځوس بستریز معالجوي روغتون (سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې تدریسي روغتون) د طبي برخې همکارانو لپاره ځانګړی شو و، چې د پوهاند دوکتور محمد طیب نشاط او متخصص دوکتور شفیق الله عطیش له لوري، نن دوشنبه (۹/۹/۱۴۰۳ ل) له غرمې وړاندې د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو. د عمومي طب پوهنځي، معالجوي ډیپارټمنټ استاد ښاغلي پوهاند دوکتور محمد طیب نشاط له لوري د ښه راغلاست او د سیمینار د اهدافو، اړتیاو او لومړنیو اړینو معلوماتو له شریکولو وروسته، د مؤسسې د څېړنې، تألیف او ژباړې مرستیال ښاغلي متخصص دوکتور شفیق الله عطیش له خوا ګډونوالو سره د سیمینار د مفردآتو په اړه هر اړخیز معلومات شریک شول. ښاغلي عطیش د سیمینار د تألیف اړوند څینو مهمو اصطلاحاتو د پېژندنو په ګډون، د درسي، تألیفي، ممد او څېړنیزو اثارو، د درسي او تألیفي اثارو او ممد درسي کتاب لیکنې معیارونو، د تألیفي اثارو او ژباړې توپیرونو، د تألیف پر مهال د اړینو لارښوونو، د تألیف د ګټو، د مؤلف د ځانګړتیاو او د تألیفي اثر لیکلو پړاوونو په اړه ګډونوالو ته تفصیلي معلومات وړاندې کړل.



د سیمینار په پای کې ګډونوالو، په ځانګړې ډول د څېړنې، تألیف او ژباړې معاونیت او د بهرنیو ژبو او مسلکي پرمختیا آمریت مسوولینو څخه د مننې او خوښۍ په څرګندولو سره، د سیمینار اړوند موارددو په اړه خپلې پوښتنې وکړې، چې د پوهاند دوکتور محمد طیب نشاط او متخصص دوکتور شفیق الله عطیش له لوري ورته په ګډه قناعت بخښونکي علمي ځوابونه وویل شو.

## د عقامت (Infertility) په اړه سیمینار وړاندې شو

(۱۰/میزان/۱۴۰۳) - چهارشنبه

یاد سیمینار چې د مؤسسې د معالجوي طب ډیپارټمنټ د استاد شېر محمد ذکي له لوري، نن له غرمې وړاندې د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو، د عمومي طب پوهنځي د رئیس، مرستیال، استادانو او اداري کارکونکو په ګډون، لسګونو تنو محصلینو په کې برخه اخیستې وه.

د پرانیستې وینا پر مهال د عمومي طب پوهنځي رئیس دوکتور محمد جاوید حاذق د پوهنځي د استادانو له لوري د علمي او معلوماتي سیمینارونو لړۍ د پیل او دوام په اړه خوښۍ څرګنده کړه او یاد سیمینارونه یې د محصلینو په ظرفیت لوړونه کې خورا اغېزناک وبلل.



ښاغلي دوکتور شېر محمد ذکي د سیمینار د عمده موضوعاتو په توګه، د عقامت پېژندنه، ډولونه، په نارینه او ښځینه و کې د ناروغۍ لاملونه، د ناروغۍ کنټرول او درملنه ترسرلیک لاندې موضوعاتو په اړه هر اړخیز او علمي معلومات وړاندې کړل او د موضوع اړوند برخو کې د ګډونوالو شته پوښتنې یې په خورا مسلکي او علمي ډول ځواب کړې.

د یادونې وړ ده چې د سیمینار په وروستیو کې د عمومي طب پوهنځي د فرهنګي چارو فرعي کمېټې مسوول او د معالجوي طب ډیپارټمنټ استاد، دوکتور عبدالله کاموال له لوري د سیمینار په اړه مثبت نظر وړاندې شو. ښاغلي کاموال د پوهنځي له استادانو د سیمینارونو لړۍ د دوام او په ورته وخت کې له محصلینو څخه د ورته علمي او معلوماتي سیمینارونو وړاندې کولو غوښتنه وکړه.

## د عمومي طب پوهنځي محصلینو تر منځ علمي سیالي ترسره شوه

(۱۸/میزان/۱۴۰۳) - چهارشنبه




سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د عمومي طب پوهنځي د معالجوي طب ډیپارټمنټ او د پوهنځي د فرهنګي چارو فرعي کمېټې له لوري د درېیم کال دویم سمستر B او C سکشن محصلینو تر منځ، په فارمکالوژۍ مضمون کې، علمي سیالي ترسره شوه. یاده سیالي چې نن چهارشنبه (۱۸/۷/۱۴۰۳)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وشوه، د پیل وینا پر مهال یې د عمومي طب پوهنځي رئیس دوکتور محمد جاوید حاذق، د سیالۍ برابرولو له امله د ژوري هئیت غړو او د فرهنګي چارو فرعي کمېټې مسؤلینو په ګډون له اړوند همکارو ځوا ځانګړې مننه وکړه. ښاغلي حاذق همدا راز زیاته کړه چې دا ډول برنامې د محصلینو تر منځ د علمي نظریاتو د تبادلې او سالم رقابت په برخو کې ګټورې دي او محصلین هم باید په کې فعاله ونډه واخلي.

د علمي سیالۍ پوښتنې او پایلې د ګډونوالو په شتون کې، د یوې شفافې پروسې له مخې ترتیب شوې، چې د ژوري هیئت په استازولۍ، د پوهنځي

د مرستیال صفی الله محبت له لوري، د B سکشن محصلـــین ګټونکي اعلان شول او د پوهنځي د ریاست له لوري محصلینو ته ډالۍ هم ورکړل شوې.

پاتې دې نه وي، چې سپین غر د لوړو زده کــړو مؤسسې درې ګونو پوهنځیـــو او فرهنګي چارو اصلي او فرعي کمېټو، د محصلینـو د علمي کچـــې لـــوړاوي او د مفاهمې، سوال ځواب او مناقشې هنرونو د پیاوړتیا په موخه، وار له مخه هـــم ورته خپلمنځي او عـــومي سیالۍ ترسره کړي دي، چې په یادو برخو کې خورا اغېزناکې ثابتې شوې دي.

## د ۱۴۰۳ لمریز کـــال پسـرلني سمستر ممتـــاز محصلان وستایل شول

(۱۷/میزان/۱۴۰۳) - سه‌شنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې له لوري نن سه شنبه (۱۷/۷/۱۴۰۳)، د درې ګونو پوهنځیو د ۱۴۰۳ لمریز کال پسرلني سمستر لسګـــونه تنه ممتاز محصلان وستـایل شول. یاده ستاینغونډه چې د مؤسسې د غـــونډو په عمومي تالار کې تر ســـره شوه، د مؤسسې عمومي رئیـــس، د سپین غر مومند پنځوس بستریز روغتـــون رئیس، د مؤسسې مرستیالانو، د پوهنځیو رئیسانو او مرستیالانو، د تدریسي روغتون ســـرطبیب او اداري همکارانو، د مؤسسې د بېلابېلو اداري واحدونو مسؤلینو، د عمـــومي طب، غاښونو طب او طبي ټکنالوژۍ پوهنځیو استادانو او ممتاز محصلینو په ګډون درلود. د پرانیستې وینا پر مهال، د مؤسســـې رئیس سیـــد شمس الدین همت ګډونوالو ته د ښه راغـــلاست او ممتـــاز محصلینو ته د مبارکـــۍ ویلو سربېره؛ د محصلینـــو ترمنځ د سالم رقابت په ارزښت خبـرې



وکړې، د محصلینو د مکافاتو د دوام په اړه یـــې ډاډ ورکړ او د مؤسسې لـــه اداري همکارانو او استادانو څخه یې د ازموینو او ارزونو د شفافیت له امله مننه وکړه.

ښاغلي همت همدا راز د مؤسسې او تـــدریسي روغتون د وروستیو پرمختګـــونو، لاسته راوړنو او راتلونکو پلانونو په اړه ګډونوالو سره معلومات شریک کړل، په اداره کې د مکافاتو او مجازاتو اصل پر ښېګڼو یې خـــبرې وکړې او له محصلینو څخه غوښتنې تر څنګ یې، هغوی خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړل.

د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل هـــم په خپله وینا کې د خوښۍ په څرګندولو سره له استادانو مننه وکړه، چې د تدریس او محصلینـــو ارزونو پر مهال یې کیفیت او عدالت ته پاملرنه کړې ده. ښاغلي زیارمل د محصلینـو د مثبتو فعالیتونو او لاسته راوړنو ستایل، د اداري مکلفیـــت وباله او په ورته وخت کـــې یې ممتاز محصلینو ته د اداري له لوري د ځانګړو مالي امتیازاتو او سکالرشیپـــونو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

د یادونې وړ ده چې په ستاینغونـــډه کې د ټولګیو په کچـــه د لومړي، دویم او دریم مقام ګټونکو ته ستاینلیکـــونه او د مؤسسې او پوهنځیـــو په کچه د لومړیو درې مقامونو ګټونکو ته د ستاینلیکونو سربېره، د راتلونکي سمستر لپاره ځانګــــړي مالي سکالرشیپونو هم ورکړل شول.

## د مؤسسې محصلینو نږدې یوویشت زره (۲۱۰۰۰) سي سي وینه په تلسیمیا اخته ناروغانو ته ډالۍ کړه

(۱۱/میزان/۱۴۰۳) - چهارشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسســـې (ننګرهار) محصلینـــو د ننګرهار عامې روغتیا ریاست په غوښتنه، نن چهـــارشنبه سهار (۱۱/۷/۱۴۰۳)، د دوستوخیل تلسیمیـــا په همکـــارۍ، د موسسې پـــه ودانۍ کې، د وینې راټولونـــې کمپاین پر مهال نږدې یوویشت زره (۲۱۰۰۰) سي سي وینه په تلسیمیا اخته ناروغانو ته د روغتیایي مـــلاتړ



او انساني همدردۍ له مخـــې ډالۍ کړه.

د محصلانو چـارو آمر ښاغلي هدایـــت الله سعید د تلسیمیـــا ناروغانو سره همـــدردي او د هغوی روغتیایي ملاتړ اړیـــن وبلـه او په دې برخه کـــې یې د دستوخیل تلسیمیا مرکز له مسئولینو او له ټولو هغو هـــوادوالو، په ځانګـــړي ډول د مؤسسې له محصلینو مننه، وکړه چې د خپلې وینـــې په ورکولـو سره د یو بل اړمن انسان ژوند ژغورلو هڅه کوي.

په پای کې د دوستوخیل تلسیمیا مرکز مسئول ښاغلي شاه ســوار شینواري د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) له رهبرۍ او تنظیموونکو څخه مننه وکړه چـــې د تېر په څېر یې یو ځل بیا، د وینې راټولونې پروسې تر پایه بشپړه همکاري وکــړه او محصلین یې د وینـــې ورکولو ته وهڅـــول. نوموړي همدا راز د هغو محصلینو ځانګړې مننه وکړه، چـــې د تلسیمیا ناروغانو د ژونــد ژغورنې په موخه یې د نننې کمپاین په لړ کې، خپله وینه ډالۍ کړه.

د یادونې وړ ده چې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې او کـــارکوونکو وار له مخه هم د ننګرهار عامې روغتیـــا ریاست په غوښتنه او د دوستوخیل تلسیمیا مـــرکز په همکارۍ، نږدې درویشـــت زره (۲۳۰۰۰) سي سي وینا پـــه تلسیمیا اخته ناروغانو ته ډالۍ کړې ده.

## د انتاناتـــو مخنیوي تر سرلیـک لاندې علمي سیمینار وړاندې شو!

(۲۲/میزان/۱۴۰۳)



سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د بهرنیو ژبـو او مسلکي پرمختیـــا آمریت د کلنۍ ظرفیت لوړونې او د مشوره ورکوونې او کارموندنې آمریت د انکشـــافي پلانـــونو پر اساس، د مؤسسې غاښونو طـــب پوهنځـــي ستوماتولـــوژۍ ډیپارټمینټ له لوري د انتاناتو مخنیـــوی (Infection Prevention) تر ســـرلیک لاندې یو ورځنۍ علمي سیمینار وړاندې شو. یاد سیمینار د غاښونو طـــب پوهنځي د مرستیال او د یاد پوهنځي استاد، دوکتور بلال احمد صدیقي له لوري نن له غـــرمې وړاندې د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وړاندې شو، چې د غاښـــونو طب پوهنځي د رئیس او د پوهنځـــي د اداري او تدریسي همکارانو په شمـــول په کې لسګـــونو تنو محصلینو ګډون کـــړی و. د سیمینار د پرانیستې وینـــا پر مهال

د پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور عبدالله رحماني په ځانګړي ډول له محصلینو څخه په ورته برنامو کې د پراخه ګډون غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه چې له دې وروسته باید محصلین هم، له ډیپارټمنټ او پوهنځي ریاست سره په همغږۍ دا ډول علمي او معلوماتي سیمینارونه برابر او وړاندې کړي.

ښاغلي دوکتور بلال احمد صدیقي له لورې په یاد علمي سیمینار کې، د اناتانو د پېژندنې، د اناتانو د سرچینو، د اناتانو د مخنیوي د ارزښت او اصولو، معیاري احتیاطي تدابیرو، د طبي کثافاتو په مناسب ځای کې د ځای پر ځای کولو، د ملوثو کثافاتو په سم ډول ځای په ځای کولو او په کلینیکونو، په ځانګړي ډول د غاښونو کلینیکونو کې، د اناتانو د مخنیوي لپاره د اړینو پیغامونو او سپارښتنو په اړه هر اړخیز علمي معلومات وړاندې کړل.

د سیمینار په پای کې د ګډونوالو پوښتنې په علمي او مسلکي ډول ځواب او سیمینار په دعائیه کلام سره پای ته ورسېد.

## د خوړو نړیوالي ورځې په مناسبت معلوماتي سیمینار وړاندې شو

(۲۵/میزان/۱۴۰۳) - چهارشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي، د فرهنګي چارو فرعي کمېټې له لورې، د خوړو نړیوالي ورځ په مناسبت یو ورځنی معلوماتي سیمینار وړاندې شو. یاد سیمینار چې د عمومي طب پوهنځي د معالجوي طب ډیپارټمنټ استاد دوکتور رفیع الله حفیظ له لورې نن چهارشنبه (۲۵/۷/۱۴۰۳ نېټه)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وړاندې شو، چې د پرانیستې وینا پر مهال یې د پوهنځي رئیس دوکتور محمد جاوېد حاذق له لورې د خوړو د تحفظ، په نړیواله کچه د خوراکي توکو، په تېره سالمو خوړو ته د انسانانو د نه لاسرسي او د خوړو د بې ځایه مصرف د منفي پایلو په اړه، د نړیوالو سازمانونو او څېړنو احصائیوي ارقام ګډونوالو سره شریک شول.



ښاغلي دوکتور رفیع الله حفیظ د خوړو نړیوالي ورځې شالید ته پام، د خوړو د پېژندنې، ډولونو، منابعو، د خوراکي توکو بېلابېلو منابعو ته د بدن د اړتیا نورمالو کچو، د خوراکي توکو د ساتنې مېتودونو او د ناسالمو خوړو د کارونې له امله د رامنځته کېدونکو ناروغیو په اړه، ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

د سیمینار په پای کې د عمومي طب پوهنځي د فرهنګي چارو مسؤل دوکتور عبادالله کاموال، د سیمینار وړاندې کولو له امله، له ښاغلي حفیظ څخه د مننې په کولو سره، د سیمینار په اړه خپل مثبت نظریات شریک کړل او له ګډونوالو یې وغوښتل چې د معلوماتي سیمینار ټول ذکر شوي اړین موارد د عامه پوهاوي په موخه د ټولنې له نورو وګړو سره شریک کړي.

## دماغ ته د شریاني وینې اِروا (Circle of Willis) په اړه علمي سیمینار وړاندې شو

(۲۵/میزان/۱۴۰۳) - چهارشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډیپارټمنټ له لورې، دماغ ته د شریاني وینې اِروا (Circle of Willis) تر سرلیک لاندې علمي سیمینار وړاندې شو.

یاد سیمینار چې د یاد پوهنځي د معالجوي طب ډیپارټمنټ استاد دوکتور حیات زمان شینواري نن چهارشنبه (۲۵/۷/۱۴۰۳ نېټه)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وړاندې کړ، د پرانیستې وینا پر مهال یې د پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور محمد جاوېد حاذق د عمومي طب پوهنځي په مشرۍ له خپلو ټولو استادانو څخه د دا ډول سیمینارونو برابرولو لپاره ځانګړې مننه وکړه.



ښاغلي دوکتور حیات زمان شینواري دماغ ته د شریاني وینې اِروا د پېژندنې، موقعیت، د جوړښت ځرنګوالي، Stroke، Blood Supply to Cerebrum یا دماغي سقطي پېژندنې، اپیډیمیولوژي او Stroke Syndrome په اړه ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او په یادو برخو کې د ګډونوالو پوښتنې یې په علمي او مسلکي ډول ځواب کړې.

د سیمینار په وروستیو کې د معالجوي طب ډیپارټمنټ آمر او استاد دوکتور محبت شاه همت د سیمینار په اړه خپل مثبت نظریات شریک کړل او له محصلینو یې په ورته برنامو کې د فعال ګډون هیله څرګنده او سیمینار د پوهنځي د مرستیال صفی الله محبت په دعائیه کلام سره پای ته ورسېد.

## د غاښونو طب پوهنځي محصلینو تر منځ علمي سیالي ترسره شوه

(۲۸/میزان/۱۴۰۳) - شنبه



سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د غاښونو طب پوهنځي د ستوماتولوژي ډیپارټمنټ او د پوهنځي د فرهنګي چارو فرعي کمېټې له لورې د دویم او درېیم سمسترونو محصلینو تر منځ، د اسلام اعتقادي نظام مضمون کې، علمي سیالي ترسره شوه. یاده سیالي چې نن شنبه (۲۸/۷/۱۴۰۳)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وشوه، د ژوري هیئت سرببېره، د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال، د غاښونو طب پوهنځي رئیس، د پوهنځي مرستیال او استادانو او لسګونو تنو محصلینو په کې ګډون درلود.

د سیالۍ د پیل وینا پر مهال د غاښونو طب پوهنځي رئیس دوکتور عبدالله رحماني زیاته کړه چې دا ډول برنامې د محصلینو تر منځ، د ظرفیت لوړونې، د علمي نظریاتو د تبادلې او سالم رقابت په برخو کې ګټورې دي او محصلین هم باید په کې فعاله ونډه واخلي. په ورته وخت کې د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل د سیالۍ د ارزښت په څرګندولو سره، محصلین د هغوی مسؤلیتونو ته متوجه کړل. د علمي سیالۍ پوښتنې او پایلې د ګډونوالو په شتون کې، د یوې شفافې پروسې له مخې ترتیب شوې، چې د ژوري هیئت په استازولۍ، د پوهنځي د رئیس دوکتور عبدالله رحماني له لورې د دویم سمستر محصلین ګټونکي اعلان او د سیالۍ اړوند دواړو سمسترونو محصلینو ته دالۍ هم ورکړل شوې.

پاتې دې نه وي، چې د سیالۍ په پای کې د ستوماتولوژي ډیپارټمنټ آمر دوکتور ریاض سالارزي، د سیالۍ په اړه خپل مثبت نظریات څرګند کړل.

# د Cocci بکتریاو د مقاومت اسبابو په اړه علمي سیمینار وړاندي شو

(۲۹/میزان/۱۴۰۳) - یکشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژي پوهنځي د عمومي ډیپارټمنټ له لورې، د Cocci بکتریاو د مقاومت اسباب تر عنوان لاندې علمي سیمینار وړاندې شو.

یاد سیمینار د پوهنځي د عمومي ډیپارټمنټ استاد دوکتور محمد رسول حسني له لورې نن یکشنبه (۲۹/۷/۱۴۰۳ نېټه) له غرمې وړاندې، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وړاندې شو، چې د پوهنځي رئیس، مرستیال، استادانو او لسګونو تنو محصلینو په کې ګډون کړی و.

د پوهنځي مرستیال دوکتور بلال حمیدي، د سیمینار د پیل وینا پر مهال، د سیمینار برابرولو له امله د ښاغلي رسولي په ګډون، د پوهنځي له ټولو استادانو مننه وکړه او له محصلینو څخه یې وغوښتل، چې په ورته علمي سیمینارونو کې فعاله ونډه واخلي او په دې ډول خپل ظرفیتونه لوړ کړي.




ښاغلي دوکتور محمد رسول حسني د سیمینار وړاندې کولو پر مهال، د بکتریا او مقاومت په اړه د عمومي معلوماتو په وړاندې کولو سره، د Cocci بکتریاو د پېژندنې، د Cocci بکتریاو د مقاومت میکانیزمونو، د اسبابو له مخې د مقاومت منځته راتللو او د میکانیزمونو له مخې د Cocci بکتریاو د ډولونو په اړه ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او په پای برخه کې د ګډونوالو پوښتنې یې په علمي او مسلکي ډول ځواب کړې. د سیمینار په وروستیو کې د طبي ټکنالوژي پوهنځي د عمومي ډیپارټمنټ آمر زبیر شکور د نصابي فعالیتونو سربېره په اضافه نصابي فعالیتونو کې د محصلینو پر ونډه ټینګار وکړ، د پوهنځي له استادانو یې د ورته علمي سیمینارونو برابرولو هیله څرګنده کړه او «د Cocci بکتریاو د مقاومت اسباب» تر سرلیک لاندې نننی سیمینار د ښاغلي شکور په دعائیه کلام سره پای ته ورسېد.

# د طبي ټکنالوژي پوهنځي محصلینو تر منځ علمي سیالي ترسره شوه

(۳۰/میزان/۱۴۰۳) - دوشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ له لورې، د پوهنځي د فرهنګي چارو فرعي کمېټې په همکارۍ، د دریم سمستر محصلینو تر منځ پرازیتولوژي مضمون کې علمي سیالي ترسره شوه.




یاده سیالي چې نن دوشنبه (۳۰/میزان/۱۴۰۳)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وشوه، د پیل وینا پر مهال یې د طبي ټکنالوژي پوهنځي رئیس دوکتور محمد جمیل وسیم د عمومي ډیپارټمنټ او فرهنګي چارو فرعي کمېټې له مسئولینو او د سیالي اړوند مضامینو له استادانو، د سیالي برابرولو لپاره، څانګړې مننه وکړه. ښاغلي وسیم همدا راز زیاته کړه چې دا ډول برنامې د محصلینو تر منځ د علمي نظریاتو د تبادلې او سالم رقابت په برخو کې ګټورې دي او محصلین هم باید په کې فعاله ونډه واخلي.

د علمي سیالۍ پوښتنې او پایلې د ګډونوالو په شتون کې، د یوې شفافې پروسې له مخې ترتیب شوې، چې د ژوري هیئت له لورې د دریم سمستر B ګروپ محصلین ګټونکي اعلان شول او د پوهنځي د ریاست له لورې دواړه ګروپ محصلینو ته ډالۍ هم ورکړل شوې.

د یادونې وړ ده چې د سیالۍ په وروستیو کې د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل د سیالۍ په اړه خپل مثبت نظریات له ګډونوالو سره شریک کړل او په دې برخه کې یې د پوهنځي له ریاست او د فرهنګي چارو فرعي کمېټې له مسؤلینو څانګړې مننه وکړه.

# د هستامین او انټي هستامین درملو په اړه علمي سیمینار وړاندي شو

(۹/عقرب/۱۴۰۳) - چهارشنبه



سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي د یو تن محصل له لورې، د هستامین او انټي هستامین (Histamine and Antihistamine) درملو په اړه علمي سیمینار وړاندې شو.

یاد سیمینار چې د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډیپارټمنټ د شپږم سمستر محصل صلاح الدین صافي له لورې نن چهارشنبه (۹/۸/۱۴۰۳ نېټه)، د مؤسسې د کنفرانسونو په عمومي تالار کې وړاندې کړ، د پوهنځي رئیس، استادانو او لسګونو تنو محصلینو په کې ګډون کړی و.

د پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور محمد جاوېد حاذق ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ، له ښاغلي صلاح الدین صافي څخه د علمي سیمینار وړاندې کولو له امله مننه وکړه او د پوهنځي له ټولو محصلینو یې د ورته علمي سیمینارونو برابرولو غوښتنه وکړه. ښاغلي صلاح الدین صافي د سیمینار وړاندې کولو پر مهال، د هستامین او انټي هستامین د پېژندنې، د جوړېدلو میکانیزم، موقعیت، زخیرې، د هستامین او انټي هستامین د آخذو یا (Receptors)، د ازادېدلو میکانیزم، پر بدن باندې د هستامین او انټي هستامین د اغېزو، کلینیکي استعمال، د هستامین او انټي هستامین د اړخیزو یا جانبي اغېزو او پر وړاندې یې د اړینو اقداماتو په ګډون، ګڼو اړینو موضوعاتو په اړه ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

د یادونې وړ ده چې د سیمینار په وروستیو کې د عمومي طب پوهنځي د فرهنګي چارو مسؤل او د یاد پوهنځي استاد دوکتور عبادالله کامول له لورې د سیمینار په اړه خپل مثبت نظریات شریک کړل او له محصلینو یې په ورته برنامو علمي سیمینارونو کې د فعال ګډون هیله څرګنده کړه.

# د مکروب ضد درملو پر وړاندې د مکروبونو مقاومت په اړه علمي سیمینار وړاندي شو

(۱۴/عقرب/۱۴۰۳) - دوشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ له لورې، د مکروب ضد درملو پر وړاندې د مکروبونو مقاومت (Antimicrobial Resistance "AMR") تر سرلیک لاندې علمي سیمینار وړاندې شو.

یاد سیمینار چې د طبي ټکنالوژي پوهنځي رئیس، استادانو او لسګونو تنو محصلینو په کې ګډون درلود، د پوهنځي د مرستیال او د پاراکلینیک برخې استاد دوکتور بلال حمیدي له لورې نن دوشنبه (۱۴/۸/۱۴۰۳ نېټه) له غرمې وړاندې، د مؤسسې د

کنفرانسونو په عمومي تالار کې وړاندې شو. د پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور محمد جمیل وسیم د پرانیستې وینا پر مهال، د محصلینو د ظرفیتونو لوړونې په برخو کې د اضافه نصابي فعالیتونو، په ځانګړي ډول د نني موضوع، پر اهمیت ټینګار وکړ او د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي په مشرۍ یې له خپلو ټولو استادانو څخه د دا ډول سیمینارونو برابرولو لپاره ځانګړې مننه وکړه. ښاغلي دوکتور بلال حمیدي د موضوع اړوند اړینو اصطلاحاتو د پېژندنې، د مکروب ضد درملو پر وړاندې د مکروبونو(AMR) په اړه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) وروستیو احصائیوي ارقامو، پر(AMR) د پوهېدلو اړتیا او اهمیت، د (AMR) رامنځته کوونکو عواملو، د منځته راتګ میکانیزمونو او د مکروب ضد درملو پر وړاندې د مکروبونو مقاومت (AMR) د کنټرول او مخنیوي ستراتیژۍ او لارو چارو په اړه ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.




د سیمینار په وروستیو کې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي د پاراکلینیک برخې مسؤل ټکنالوجیسټ قدرت الله اماني د سیمینار په اړه خپل مثبت نظریات شریک کړل. نوموړي له محصلینو څخه وغوښتل چې د استادانو په سیمینارونو بسنه ونه کړي او محصلین هم باید دا ډول علمي او معلوماتي سیمینارونه وړاندې کړي.

## سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه تر سره شوه

(۱٦/عقرب/۱۴۰۳) - چهارشنبه

رازي د لوړو زده کړو مؤسسې (کابل) د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي محصلینو نن چهارشنبه (۱٦/۸/۱۴۰۳ هـ ش نېټه)، ننګرهار ته د خپل یو ورځني علمي سفر پر مهال سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه.

په یاد علمي سفر کې د رازي د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي چارو مرستیال، د یادې مؤسسې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي رئیس، د پوهنځي مرستیال، استادانو او لسګونو تنو محصلینو ګډون درلود، چې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال له لوري ورته د خوښۍ مراتبو په وړاندې کولو سره، ښه راغلاست او سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شول. رازي د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي چارو مرستیال شېراحمد شمس الوطن سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې ته د علمي سفر له امله خوښي څرګنده کړه او د خپلې اداري په استازولۍ یې له کوربه اداري څخه ځانګړې مننه وکړه. ښاغلي شمس الوطن د خپلې اداري د عمومي پېژندنې او وروستیو لاسته راوړنو په اړه خبرې وکړې او سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې سره د کړي هوکړه لیک موارد ته د دوه اړخیزې ژمنتیا له امله یې خپل نیک مراتب وړاندې کړل.



د لیدنې پر مهال د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي رئیس دوکتور محمد جمیل وسیم له لوري د علمي سفر ګډونوالو ته د مؤسسې د بېلابېلو اداري څانګو، لابراتوارونو، څېړنیز مرکز، مرکزي کتابتون، د کانفرانسونو او غونډو عمومي تالارونو او تدریسي خونو په اړه اړین معلومات ورکړل شول او په اړوندو برخو کې د ګډونوالو پوښتنې یې په خورا علمي، مسلکي او صمیمانه ډول ځواب کړې.

د یادونې وړ ده چې د ذکر شویو ادارو تر منځ وار له مخه د ګډو همکاریو تړون لاسلیک شوی دی، چې له مخې یې نږدې دریو نیمو میاشتو وړاندې، سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي رئیس، ځینو استادانو او لسګونو تنو محصلینو د علمي ساحوي سفر پر مهال، د ګڼو طبي ادارو له ډلې د رازي د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي له بېلابېلو برخو څخه هم لیدنه کړې وه.

## د هوا ککړتیا مخنیوي او چاپېریال ساتنې اونۍ په مناسبت معلوماتي برنامه وړاندې شوه

(۲۱/عقرب/۱۴۰۳) - دوشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د فرهنګي چارو اصلي کمېټې له لوري د هوا ککړتیا مخنیوي او چاپېریال ساتنې اونۍ په مناسبت معلوماتي برنامه، نن دوشنبه (۲۱/۸/۱۴۰۳) د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شوه.

یاده برنامه کې د مؤسسې د اداري کارکونکو، استادانو، خدماتي کارکونکو او لسګونو محصلینو سربېره، د موضوع په اړه د عامه پوهاوي په موخه د چاپېریال ساتنې ریاست کارکونکو هم ګډون درلود.



برنامې ته د پرانیستې وینا پر مهال د مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د چاپېریال او چاپېریال ساتنې اړوند په نړیواله کچه ځینو موارد ته په پام سره، د چاپېریال ساتنې اړوند فردي مسؤلیتونو باندې ټینګار وکړ.

د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل په خپل وار د «چاپېریال ساتنه او د ککړتیا مخنیوی د اسلام له نظره» تر سرلیک لاندې معلوماتي سیمینار وړاندې کړ او د موضوع د بنسټیزو ټکو په توګه یې د چاپېریال او ککړتیا پېژندنو، ډولونو او د اسلامي نصوصو په رڼا کې د چاپېریال ساتنې او هوا ککړتیا مخنیوي په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

د ننګرهار ولایت د چاپېریال ساتنې ریاست له لوري د عامه پوهاوي په موخه د رابلل شویو همکارانو له ډلې ډاکټر عبدالرازق شېرزي د خپلې اداري په استازولۍ سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې له ټولې اداري د چاپېریال ساتنې ته د پاملرنې له امله ځانګړې مننه وکړه. نوموړي په خپلو خبرو کې د اقلیم بدلون، ککړتیا او چاپېریال ساتنې اړوند هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او په یادو برخو کې د ولایت په کچه د بېلابېلو دولتي او نادولتي ـ په ځانګړي ډول تحصیلي بنسټونو ـ پر مسؤلیتونو یې ټینګار وکړ.

پاتې دې نه وي چې د هوا ککړتیا د مخنیوي او چاپېریال ساتنې تر سرلیک لاندې نوموړې اونۍ لپاره ګڼ فعالیتونه پلان شوي دي، چې د معلوماتي سیمینارونو، کنفرانسونو او د عامه پوهاوي برنامې یې مهمې برخې تشکیلوي او د اونۍ تر پایه به دوام ولري.

## نشه یي توکي، ډولونه او د مخنیوي لارې چارې تر سرلیک لاندې معلوماتي سیمینار وړاندې شو

(۲۲/عقرب/۱۴۰۳) - سه شنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د فرهنګي چارو اصلي کمېټې له لورې د معالجوي طب ډیپارټمنټ په همکارۍ د هوا ککړتیا مخنیوي او چاپیریال ساتنې اونۍ په مناسبت، د «نشه یي توکي، ډولونه او د مخنیوي لارې چارې» تر سرلیک لاندې معلوماتي سیمینار وړاندې شو. یاد سیمینار چې د معالجوي طب ډیپارټمنټ د استاد دوکتور احسان الله دولتزي درمان له لورې د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو، د مؤسسې د اداري کارکونکو، استادانو او خدماتي کارکونکو سربېره په کې لسګونو تنو محصلینو ګډون درلود.



د سیمینار د پیل وینا پر مهال د مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال د موضوع د ارزښت سربېره په ملي او نړیواله کچه د دې توکو د زیاتې کارونې اندېښنو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل او د یادو توکو پر وړاندې د مبارزې اړوند فردي مسؤلیتونو باندې یې ټینګار وکړ.

دوکتور احسان الله دولتزي درمان په خپل وار د سیمینار د ارزښت او اهدافو بیانولو تر څنګ، د نشه یي توکو د پېژندنې، د اسلام له نظره نشه یي توکو، د نشه یي توکو اړوند ځینو مهمو اصطلاحاتو، روږدیتوب او د روږدیتوب د ډولونو، د بېلابېل ډول نشه یي توکو د زیانونو او ورځخه د مخنیوي لارو چارو په اړه ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او په یادو برخو کې د ګډونوالو مثبت نظرونه واورېدل شول. د یادونې وړ ده چې د هوا ککړتیا مخنیوي او چاپیریال ساتنې اونۍ تر سرلیک لاندې نومول شوې اونۍ په مناسبت تېره ورځ هم معلوماتي برنامه وړاندې شوې وه چې د مؤسسې اړوند داخلي ګډونوالو سربېره په کې د چاپیریال ساتنې ریاست ځینو همکارانو هم ګډون درلود او په خپله برخه کې یې د چاپیریال ساتنې اړوند عامه پوهاوی تر سره کړ.

## د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې عامه پوهاوي کمپاین تر سره شو

(۲۲/عقرب/۱۴۰۳) - سه شنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د سپورټ او بدني روزنې کمېټې له لورې، د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې عامه پوهاوي کمپاین ـ پرون ـ مازیګر (۲۲/۸/۱۴۰۳ نېټه) ـ په ټاپګر د بدن ښکلا کلب کې تر سره شو.

د کمپاین پر مهال چې د مؤسسې ځینو اداري کارکونکو او د کلب د مسؤلینو په ګډون لسګونو تنو ورزشکارانو شتون درلود، د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل د نشه یي توکو د جسمي او ذهني زیانونو په اړه وینا وکړه. نوموړي ورزش د نشه یي توکو د مخنیوي یوه تر ټولو مهمه او اغېزناکه لاره وبلله او له ورزشکارانو څخه یې وغوښتل، چې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې عامه پوهاوي د دوی ایماني او انساني مسؤلیت دی او باید د



ټولنې نور وګړي هم ورزش ته وهڅوي او په دې ډول په ټولنه کې د ورزش او بدني روزنې فرهنګ دود او پیاوړی کړي. د یادونې وړ ده چې سپین غـر د لوړو زده کړو مؤسسه د ټولنې پرمختګ کې د ونډې اخیستنې اصل ته په پام سره وار له مخه له ټاپګر او سیټي راک د بدن ښکلا کلبونو سره د ګډو همکاریو تړونونه لري، چې له مخې یې تر اوسه لسګونه تنه اداري کارکونکو او محصلین یادو کلبونو ته ورمعرفي او اوسمهال د هوکړې لیکونو موارد و له مخې په ځانګړو مالي تخفیفونو سره خپل ورزشي فعالیتونه تر سره کوي.

## د طب له نظره د چاپیریال د ککړتیا زیانونه او د مخنیوي لارې چارې تر سرلیک لاندې معلوماتي سیمینار وړاندې شو

(۲۳/عقرب/۱۴۰۳) - چهارشنبه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د فرهنګي چارو اصلي کمېټې له لورې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي عمومي ډیپارټمنټ په همکارۍ د هوا ککړتیا مخنیوي او چاپیریال ساتنې اونۍ په مناسبت، د « د طب له نظره د چاپیریال د ککړتیا زیانونه او د مخنیوي لارې چارې» تر سرلیک لاندې معلوماتي سیمینار وړاندې شو. یاد سیمینار چې نن چهارشنبه (۲۳/۸/۱۴۰۳ هـ ش)، د یاد ډیپارټمنټ د استاد دوکتور محمد رسول حسني له لورې د مؤسسې د کنفرانسونو په تالار کې وړاندې شو، د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال او د درې ګونو پوهنځیو د رئیسانو په ګډون، په کې ګڼو محصلینو ګډون درلود.



د سیمینار د پیل وینا پر مهال د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي رئیس دوکتور محمد جمیل وسیم د سیمینار برابرونکو ټولو خواو له مسؤلینو ځانګړې مننه وکړه او د ککړتیا د ځینو عمده لاملونو او مخنیوي حل لارو په اړه یې ګډونوالو سره معلومات شریک کړل.

دوکتور محمد رسول حسني په خپل وار د سیمینار د ارزښت او اهدافو بیانولو تر څنګ، د طب له نظره د چاپیریال پېژندنې، ککړتیا پېژندنې، ایکو سیستم، د چاپیریال او هوا ککړتیا د بېلابېلو ډولونو، د ککړتیا رامنځته کونکو بېلابېل ډول لاملونو، پر انساني روغتیا باندې د ککړتیا د منفي اغېزو او د ککړتیا د مخنیوي لارو چارو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل او په یادو برخو کې د ګډونوالو پوښتنې په علمي او مسلکي ډول ځواب شوې.

د یادونې وړ ده چې د هوا ککړتیا مخنیوي او چاپیریال ساتنې اونۍ تر سرلیک لاندې نومول شوې اونۍ په مناسبت، د اونۍ لـه پیله د عامه پوهاوي او معلوماتو اړوند سیمینارونه او برنامې وړاندې کړې دي، چې ننۍ معلوماتي سیمینار هم د دې اونۍ د پلان شویو فعالیتونو یوه برخه وه.

## د شکرې ناروغۍ نړیوالې ورځې په مناسبت معلوماتي سیمینار وړاندې شو

پنجشنبه: ۲۴/۸/۱۴۰۳

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي، د فرهنګي چارو فرعي کمېټې له لورې، د شکرې ناروغۍ نړیوالې ورځ په مناسبت یو ورځنۍ معلوماتي سیمینار وړاندې شو. یـاد سیمینار چې د عمومي طـب پوهنځي د معالجوي طب

ډیپارټمنټ استاد دوکتور متخصص رستم شاه یار له لوري د مؤسسې د کنفرانسونو په عمومي تالار کې وړاندې شو، د پوهنځیو رئیسانو، د بېلابېلو اداري واحدونو آمرینو، استادانو او د فرهنګي چارو فرعي کمېټې غړو په ګډون په کې د پوهنځي لسګونو تنو محصلینو ګډون کړی و.

د پرانیستې وینا پر مهال د پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور محمد جاوېد حاذق د شکرې ناروغۍ په اړه د نړیوالو سازمانونو او څېړنو وروستي احصائیوي ارقام له ګډونوالو سره شریک کړل او له ګډونوالو ـ په ځانګړي ډول محصلینو او استادانو ـ څخه یې وغوښتل چې د ناروغۍ د مخنیوي په برخه کې د وقایوي لارو چارو په اړه عامه پوهاوي کې فعاله ونډه واخلي. ښاغلي دوکتور متخصص رستم شاه یار د شکرې ناروغۍ نړیوالې ورځې شالید او پر ناروغۍ د اخته وګړو رسمي او څېړنیزو احصائیوي ارقامو ته پام، د شکرې ناروغۍ د پېژندنې، تاریخچې، اسبابو، ډولونو، کلینیکي لوحو، تشخیص، درملنې او د ناروغۍ د مخنیوي لارو چارو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.



د یادونې وړ ده چې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د فرهنګي چارو اصلي او د پوهنځیو په کچه فرعي کمېټو د کلنیو عملیاتي پلانونو له مخې وخت په وخت بېلابېلې نړیوالې ـ په ځانګړي ډول طبي ورځې ـ نمانځلې دي، چې په دې ډول غواړي د یادو نړیوالو ورځو په نمانځلو سره د ګڼو ناروغیو په اړه د عامه شعور او پوهاوي کچه لوړه کړي.

## ورزشي کلبونو ته د معرفي شویو محصلینو له فعالیتونو څخه لیدنه تر سره شوه

(۲۶/عقرب/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د سپورټ او بدني روزنې کمېټې له لوري، ټایګر د بدن ښکلا کلب ته د ورمعرفي شویو محصلینو له ورزشي فعالیتونو څخه لیدنه تر سره شوه. د لیدنې پر مهال چې د مؤسسې د سپورټ او بدني روزنې کمېټې غړو او د کلب مسؤلینو په ګډون ګڼو ورزشکارانو شتون درلود، د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل د خوښۍ په څرګندولو سره د ورزش پر اړتیا او ګټو خبرې وکړې او د مؤسسې له لوري ورمعرفي شویو محصلینو په ګډون یې، ټولنه کې په جسمي او ذهني ډول د سالم ځوان پر شتون ټینګار وکړ. د کلب مسؤلینو سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې څخه، د ورمعرفي شویو محصلینو د نېکو اخلاقو او ژمنتیا له امله مننه وکړه او په خپله برخه کې یې د هر ډول شوني همکارۍ ډاډ څرګند کړ. د یادونې وړ ده چې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د ټولنې پرمختګ کې د ونډې اخیستنې اصل ته په پام سره وار له مخه له ټایګر او سیټي راک د بدن ښکلا کلبونو سره د ګډو همکاریو تړونونه لري، چې له مخې یې تر اوسه لسګونه تنه اداري او علمي کارکونکي او محصلین یادو کلبونو ته ورمعرفي او اوسمهال د هوکړه لیکونو موارد له مخې په ځانګړو مالي تخفیفونو سره خپل ورزشي فعالیتونه تر سره کوي.




## د EPHS, BPHS, HMIS په اړه ټرېننګ ګډونوالو ته تصدیقونه ورکړل شول

(۸/عقرب/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د مسلکي پرمختیا او بهرنیو ژبو آمریت (PDC) له لوري د مؤسسې د کارموندنې او مشوره ورکونې آمریت په همغږۍ د اساسي روغتیایي خدمتونو کڅوړې (BPHS)، روغتوني خدمتونو اساسي کڅوړې (EPHS) او د صحي خدمتونو د معلوماتو د مدیریت سیستم (HMIS) په اړه علمي ټرېننګ ګډونوالو ته تصدیقونه ورکړل شول. یاد یو اونیز ټرېننګ چې د مؤسسې د درې ګونو پوهنځیو برحاله محصلینو او فارغانو لپاره ځانګړی شوی و او د مؤسسې د عمومي طب پوهنځي استاد دوکتور متخصص غلام نبي کاکړ له لوري وړاندې شو، د نظري زده کړو تر څنګ په کې په عملي ډول ګډونوالو ته د EPHS, BPHS (HMIS) په اړه معلومات وړاندې او په دې برخه کې ګډونوال د یوې بشپړې روزنیزې لنډمهالې دورې په توګه وروزل شول.




د تصدیقونو د وېش په مناسبت رابلل شوي غونډې ته د وینا پر مهال، د مؤسسې محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل ګډونوالو ته د ښه راغلاست په ویلو سره، د ټرېننګ پر اړتیا او اهمیت خبرې وکړې او د یادې عملي روزنیزې برنامې له امله یې له اړوندو خواو مننه وکړه. نوموړي همدا راز د ټرېننګ په اړه له خپل مثبت نظریات له ګډونوالو سره شریک کړل او له محصلینو یې وغوښتل چې د علمي او معلوماتي سیمینارونو سربېره، د محصلینو د ظرفیت لوړونې په موخه ورته ټرېننګونو، روزنیزو برنامو او ورکشاپونو کې فعاله ونډه واخلي.

د یادونې وړ ده چې د ټرېننګ ګډونوالو د ټرېننګ او په پای کې د تصدیقونو تر لاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه، د ټرېننګ وړاندې کولو له امله یې له استاد څخه ځانګړې مننه وکړه او د ورته برنامو پر دوام یې ټینګار وکړ.

## د ماشوم نړیوالې ورځې په مناسبت معلوماتي سیمینار وړاندې شو

چهارشنبه (۳۰/۸/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب او غاښونو طب پوهنځیو، د فرهنګي چارو فرعي کمېټو له لوري د ماشوم نړیوالې ورځ په مناسبت یو ورځنی معلوماتي سیمینار وړاندې شو. یاد سیمینار چې نن چهارشنبه (۳۰/۸/۱۴۰۳)، د عمومي طب پوهنځي استاد دوکتور متخصص غلام نبي کاکړ د مؤسسې د کنفرانسونو په عمومي تالار کې وړاندې کړ، د پوهنځیو رئیسانو، د ډیپارټمنټونو آمرینو، استادانو، د فرهنګي چارو فرعي کمېټو غړو او د پوهنځیو ګڼو محصلینو په کې ګډون کړی و. د عمومي طب پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور محمد جاوېد حاذق د پرانیستې وینا پر مهال ګډونوالو ته وویل د ورته معلوماتي سیمینارونو عمده اهداف دا دي، چې د ماشوم پر وړاندې د کورنیو، ټولنیزو، ښوونیزو او روغتیایي



بنسټونو په ګډون اړوندو خواوو خپلو مسؤلیتونو ته متوجـــه شي او د ټولنې دې مهم قشر ته د بشپړې پاملرنې په موخه عامه پوهاوی زیات شي.

ښاغلي دوکتور متخصص غلام نبي کاکړ د معلوماتي سیمینار وړانـدې کولو پر مهال د ماشوم او روغتیا د عمومي پېژندنو په ګډون، د ماشوم د حقوقــو، د ماشوم روغتیا د اهمیت او پر کورنۍ او ټولنه باندې د یو سالم یا ناسالــم ماشوم د اغېزو، ماشومانو ته د احتمالي روغتیايي ګواښونو او حل لارو په اړه ګډونوالو ته هر اړخیـز معلومات وړاندې کړل او په هیواد کې د ماشومانو د معلولیت او مـړینې کچې راکمـولو او د ماشومانو سالم رواني حالت پر رامنځته کولو یې ټینګار وکړ.

د سیمینار په وروستیو کې د غاښونو طب پوهنځي رئیس دوکتور عبـدالله رحماني د سیمینار په اړه د مثبت نظر څرګندولو سره، د ماشـومانو د خولې جوړ په برخـه کې د روغتیايي ستونزو او حل لارو په اړه معلـومات وړاندې کړل او يادې ورځــې د نمانځنې له امله یې له اړوندو خواو څانګړې مننه وکړه.

## د عمومـــي طب پوهنځي له محصلینو ســره د پوهنځي ستراتیژیک پلان شریک شو

چهارشنبه (۳۰/عقرب/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي د پلان او پالیســی فرعي کمېټې له لورې نن چهارشنبه (۳۰/عقـرب/۱۴۰۳)، د یو ورځني سیمینار په وړاندې کولو سره، د پوهنځي له لسګونو محصلینو سره د پوهنځــي تائید شوی پینځـــه کلن (۱۴۰۳ – ۱۴۰۷هـ ش) ستراتیژیک پلان شریک شـــو. د مؤسسې د علمي چــارو




مرستیال ناصـر خان جمـال د سیمینار د پرانیستې وینا پر مهـال ګډونوالو ته د ښــه راغلاســت سربېره، د پوهنځـــي له ریاست او په ځانګړې ډول د پــلان او پالیسی فرعي کمېټې له مسؤلینو ځانګړې مننه وکړه او د سیمینـار د ارزښت تر څنګ یې د پلان جوړونې او په تېـره د ستراتیژیک پلان پر ارزښت هر اړخیزې خبرې وکړې. د عمومي طب پوهنځي رئیس او د پــلان او پالیسی فــرعي کمېټې مسؤل دوکتور محمد جاوید حاذق، د پوهنځي ستراتیژیک پلان تشــریح پر مهال، ګډونوالو ته د پوهنځــــي د لرلید، مامـــوریت او ستراتیژیک اهدافو پـــه اړه معلومات وړاندې کړل. نوموړي همدا راز د ستراتیژیک پلان د تـدوین، تطبیـــق او ارزونې مراحلو، د داخلي او بهرني محیط تحلیل او پرتلنې، ماتریکسونو، د پوهنځي د ستراتیژی تاکلو، پینځه کلن عملیاتي پلانــونو او د پــوهنځي اړوند پینځــه کلنې بودیجې په اړه اړین معلومات له ګډونوالو سره شـریک کړل او په وروســـتیو کې د پوهنځي د رئیس او پلان او پالیسی فرعي کمېټې غړو له لورې، د ګډونوالو پوښتنې، نظرونه او وړاندیزونه واورېدل شول، چې د پوهنځي د رئیـــس لخوا یې پوښتنــې ځواب او د وړاندیزونو له امله مننه وشوه. د ستراتیژیک پلان د تشریح سیمینــار په وروستیو کې د پوهنځـــي د مرستیال استاد صفی الله محبـــت، محصلینو ته د پلان اړوند ځینې لارښوونې او سپـــارښتنې وکړې او سیمینار د نوموړي په دعائیـــه کلام سره پای ته ورسېد.

## د غاښونو طب پوهنځـي ستراتیــژیک پلان، د پوهنځي له محصلینو سره شریک شو

سه شنبه (٦/قوس/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د غاښونو طب پوهنـځي د پــلان او پالیسی فرعي کمېټې له لورې نن سه شنبه (٦/قوس/۱۴۰۳)، د یو ورځني سیمینار په وړانـدې کولو سره، د پـــوهنځي له محصلینــــو سره د پوهنځــي تائیـــد شوی پینځـــه کلـن (۱۴۰۳-۱۴۰۷ ل. ل) ستراتیژیک پلان شریک شـــو. د سیمینار د پرانیستې وینـــا پر مهال د مؤسسې د علمـي چارو مرستیال ناصـــر خان جمال د پوهنځي د پـــلان او




پالیسی فرعي کمېټې له مســوولینو ځانګړې مننه وکړه او په ټولیز ډول د پـــلان جـــوړونې او په تېـــره د ستراتیژیک پـــلان جوړولـــو پر څرنګوالي او او د پلان پر ارزښت یې هــــر اړخیـــزه وینا وکــــړه. د غاښــــونو طـــب پوهنځـــي ستراتیژیک پلان تشریـــح پر مهال، د پوهنځـــي رئیس او د پلان او پالیسی فرعي کمېټې مسؤل دوکتور عبدالله رحماني ګډونوالو ته د پوهنځـــي د لرلید، مامـــوریت او ستراتیژیک اهدافو په اړه معلومات وړاندې کړل. نوموړي همدا راز د ستراتیژیک پلان د تدوین، تطبیق او ارزونې پړاوونو، د داخلي او بهرني محیط تحلیل او پرتلنې، ماتریکسونو، د پوهنځي د ستراتیژۍ انتخاب، پینځـــه کلن عملیـــاتي پلانـــونو او د پوهنځـــي اړوند پینځـــه کلنـې بودیجې په اړه اړین معلومات له ګـــډونـــوالو سره شریک کړل. د یادونې وړ ده چې د غاښـــونو طب پوهنځـــي ستراتیژیـــک پلان د تدوین په موخه وار له مخه د پوهنځي د استادانـــو او اداري کارکونکـــو په ګډون له محصلینو څخه نظر غوښتنه شوې وه، چې د هـــغوی د نظریاتو په پام کې نیولو سره پلان تدوین او د قانوني پړاوونو له طی کولو او اړوندو برخو څخه له تائید وروستــه، اوسمهال عملاً په پوهنځي کې تطبیقېږي.

## د ایډز نړیوالي ورځــې په مناسبت معلوماتي سیمینار وړاندې شو

یکشنبه (۱۱/۹/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځـي د فرهنګـي چارو فرعي کمېټې له لورې - د مؤسسې د فرهنګـي چارو اصلي کمېټــې په همغږی - د ایـډز نړیوالي ورځې په مناسبت یو ورځنی معلوماتي سیمینار وړاندې شو. یاد سیمینـــار نن یکشنبـــه (۱۱/۹/۱۴۰۳ ل. ل) د



معالجوي طب دیپارټمنټ استاد دوکتور عباداللہ کاموال له لـوري د مؤسسې د کنفرانسونو په تـالار کې وړاندې شو، چې د پوهنځي د رئیس او استادانو سربېره په کې لسګونو تنو محصلینو ګـــډون کړی و. د پرانیستې وینا پر مهال د پوهنځـــــي رئیس ښاغلي دوکتور محمد جاوید حاذق ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د ایــډز نړیوالي ورځې په ګـــډون د بېلابېلو نړیوالو روغتیايي ورځو د نمانځلو په موخه د معلوماتي سیمینــــارونو او عامه پوهاوي برنامو پر ارزښت خبرې وکړې.

ښاغلي دوکتور عبادالله کاموال د اېډز ناروغۍ نړیوالې ورځې شالید او پر ناروغۍ د اخته وګړو رسمي او څېړنیزو احصائیوي ارقامو ته پام، د ناروغۍ د پېژندنې، تاریخچې، اسبابو، ډولونو، تشخیص، درملنې او د ناروغۍ د مخنیوي لارو چارو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل. نوموړي همدا راز زیاته کړه چې د ناروغۍ له پېښېدلو وړاندې باید د مخنیوي او وقایې لارو چارو ته پوره پاملرنه وشي او په دې برخه کې یې د طبي برخې کارکونکي او محصلین د هغوی مسؤلیتونو ته متوجه کړل.

د یادونې وړ ده چې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د فرهنګي چارو اصلي او د پوهنځیو په کچه فرعي کمېټو د کلنیو عملیاتي پلانونو له مخې وخت په وخت بلابېلې نړیوالې ـ په ځانګړې ډول روغتیایي ورځې ـ نمانځلې دي، چې په دې ډول غواړي د یادو نړیوالو ورځو په نمانځلو سره د ګڼو ناروغیو په اړه د عامه شعور او پوهاوي کچه لوړه کړي.

## د علمي پرېزنټېشن جوړولو په اړه ورکشاپ وړاندې شو

سه شنبه (۲۰/۰۹/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي د بربښنايي زده کړو فرعي کمېټې له لوري د مؤسسې د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت په همکاری د علمي پرېزنټېشن جوړولو په اړه یو ورځنۍ ورکشاپ وړاندې شو.

یاد ورکشاپ د محصلینو د ظرفیت لوړونې په موخه د مؤسسې د معلوماتي ټکنالوژۍ آمر صدیق الله عادل له لوري نن سه شنبه (۲۰/۰۹/۱۴۰۳ نېټه)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وړاندې شو، چې د طبي ټکنالوژۍ پوهنځي رئیس، د پوهنځي مرستیال، د بربښنایي چارو فرعي کمېټې مسؤلینو، د پوهنځي استادانو او د پوهنځي د ټولګیو په استازولۍ لسګونو تنو محصلینو په کې ګډون درلود. د پوهنځي رئیس دوکتور محمد جمیل وسیم د سیمنار د پیل وینا پر مهال، ګډونوالو ته د ښه راغلاست سربېره محصلینو ته د نرم او سخت مهارتونو پر ارزښت او اړتیا هر اړخیزه وینا وکړه. په ورته وخت کې د مؤسسې د معلوماتي ټکنالوژۍ آمر صدیق الله عادل له لوري ګډونوالو ته د پرېزنټېشن د عمومي پېژندنې، جوړښت، معیاري پرېزنټېشن ځانګړتیاو، په زده کړیز او کاري چاپېریالونو کې د پرېزنټېشن ارزښت او په ورته وخت کې په عملي ډول د پرېزنټېشن جوړولو لارو چارو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شول.




د یادونې وړ ده چې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د بربښنایي چارو اصلي او د پوهنځیو په کچه فرعي کمېټو وار له مخه هم د محصلینو د ظرفیت لوړونې په موخه ورته ګڼې برنامې وړاندې کړې دي او په راتلونکې کې هم د دې ډول برنامو وړاندې کولو ته ژمنې دي.

## د نرم مهارتونو او شخصیت لوړونې اړوند معلوماتي او لارښود سیمنار وړاندې شو

یکشنبه (۲۵/۹/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د مشوره ورکونې او کارموندنې آمریت د بهرنیو ژبو او مسلکي پرمختیا امریت په همکاری «د نرم مهارتونو او شخصیت لوړونې معلوماتي او لارښود سیمنار» تر سرلیک لاندې سیمنار وړاندې شو.

یاد سیمنار د مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال له لوري نن یکشنبه (۲۵/۹/۱۴۰۳ نېټه)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې وړاندې شو، چې د درې ګونو پوهنځیو لسګونو تنو محصلینو په کې ګډون کړی و.

ښاغلي ناصر خان جمال د سیمنار وړاندې کولو پر مهال د سیمنار د موخو، اړتیاو او ارزښتونو په اړه عمومي معلومات وړاندې کړل. نوموړي همدا راز د نرم مهارتونو د پېژندنې، د نرم مهارتونو بېلابېلو ډولونو، د نرم او سخت مهارتونو پرتلنې، تر ټولو عامو نرمو مهارتونو، نرم مهارتونو ته د ودې ورکولو ځانګړنې، او په شخصي، ټولنیز او کاري ژوند کې د نرمو مهارتونو د ښېګڼو او ګټو په اړه هر اړخیز معلومات ګډونوالو سره شریک کړل. د سیمنار په وروستیو کې د مؤسسې د محصلانو چارو مرستیال فضل الرحمن زیارمل د سیمنار وړاندې کولو له امله - له ښاغلي جمال څخه د مننې په کولو سره - د سیمنار په اړه خپل مثبت نظریات شریک کړل او سیمنار د نوموړي په دعائیه کلام سره پای ته ورسېد.




## د خولې بد بویي (Halitosis) په اړه علمي سیمنار وړاندې شو

سه شنبه (۲۷/۹/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د غاښونو طب پوهنځي ستوماتولوژي ډیپارتمنټ له لوري - نن سه شنبه (۲۷/۹/۱۴۰۳)، د مؤسسې د غونډو په عمومي تالار کې - د خولې بد بویي (Halitosis) تر سرلیک لاندې یو ورځنی علمي سیمنار وړاندې شو.




یاد سیمنار چې د ستوماتولوژۍ ډیپارتمنټ استاد دوکتور سعادت مومند له لوري وړاندې کېده، د غاښونو طب پوهنځي د رئیس، مرستیال او د پوهنځي د اداري او تدریسي همکارانو په شمول په کې لسګونو تنو محصلینو ګډون کړی و. د سیمنار د پرانیستې وینا پر مهال د پوهنځي رئیس ښاغلي دوکتور عبدالله رحماني ګډونوالو ته د ښه راغلاست په ویلو سره د یاد علمي سیمنار پر ارزښت خبرې وکړې، په علمي سیمنارونو کې د محصلینو په پراخه او فعاله ونډه اخیستنه یې ټینګار وکړ او د پوهنځي له لوري محصلینو ته د هغوی د ظرفیت لوړونې برنامو د ځانګړتیا او ارزښت په اړه یې معلومات وړاندې کړل.

ښاغلي دوکتور سعادت مومند د سیمنار وړاندې کولو پر مهال، خولې بد بویي (Halitosis) د پېژندنې، ډلبندۍ او ویش، اسبابو، د ناروغۍ د مخنیوي، تشخیص او درملنې بېلابېلو لارو چارو په اړه ګډونوالو ته هر اړخیز علمي معلومات وړاندې کړل. د سیمنار په پای کې د ګډونوالو له لوري د سیمنار وړاندې کولو له امله له ښاغلي مومند څخه خوښي څرګنده شوه، د سیمنار په اړه یې خپلې مثبتې انګېرنې او نظریات شریک کړل او د پوهنځي له نورو استادانو یې د ورته علمي سیمنارونو برابرولو غوښتنه وکړه.

# د طبي ټکنالوژي پوهنځي له استادانو او اداري کارکونکو سره، د پوهنځي ستراتیژیک پلان شریک شو

یکشنبه (۲۵/سنبله/۱۴۰۳)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژي پوهنځي د پلان او پالیسی فرعي کمېټې له لوري نن یکشنبه (۲۵/سنبله/۱۴۰۳)، د یو ورځني سیمینار په ورانډې کولو سره، د پوهنځي له دایمي او قراردادي استادانو او اداري کارکونکو سره د پوهنځي تائید شوی پینځه کلن ستراتیژیک پلان شریک شو.

د سیمینار د پرانیستې وینا پر مهال د مؤسسې د علمي چارو مرستیال ناصر خان جمال د سیمینار د ارزښت تر څنګ د پلان جوړونې او په تېره د ستراتیژیک پلان پر ارزښت هر اړخیزې خبرې وکړې.

د طبي ټکنالوژی پوهنځي رئیس او د پلان او پالیسی فرعي کمېټې مسؤل دوکتور محمد جمیل وسیم، د پوهنځي ستراتیژیک پلان تشریح پر مهال، ګډونوالو ته د طبي ټکنالوژي پوهنځي د لرلید، ماموریت او ستراتیژیک اهدافو په اړه معلومات وړاندې کړل. نوموړي همدا راز د ستراتیژیک پلان د تدوین، تطبیق او ارزونې مراحلو، د داخلي او بهرني محیط تحلیل او پرتلنې، ماټریکسونو، د پوهنځي د ستراتیژی انتخاب، پینځه کلن عملیاتي پلانونو او د پوهنځي اړوند پینځه کلنې بودیجې په اړه اړین معلومات له ګډونوالو سره شریک کړل.

د یادونې وړ ده چې د طبي ټکنالوژي پوهنځي ستراتیژیک پلان وار له مخه د پوهنځي د استادانو او اداري کارکونکو د نظریاتو په پام کې نیولو سره تدوین او د قانوني پړاوونو له طی کولو او اړوندو



مؤسسه تحصیلات عالی **سپین غر** د لوړو زده کړو مؤسسه

# SPINGHAR INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION (NANGARHAR)

## Contact


0785030915 – 0745050441 – 0778330015

www.spingharuniversity.edu.af

info@spingharuniversity.edu.af

First zone, Jalalabad city Nangarhar - Afghanistan


@Spinghar Institute of Higher Education - Nangarhar